# يا الله ! څوک چې زما د امت د چارو مسووليت په غاړه واخلي او له هغوی سره سختي وکړي نو سختي پرې راوله، او چا چې زما د امت د چارو مسووليت پر غاړه واخيست او په نرم يې ورسره چلند وکړ، نو پرې مهربانه شه

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په خپل دې کور کې اوریدلي دي چې ویيل يې: «يا الله ! څوک چې زما د امت د چارو مسووليت په غاړه واخلي او له هغوی سره سختي وکړي نو سختي پرې راوله، او چا چې زما د امت د چارو مسووليت پر غاړه واخيست او په نرم يې ورسره چلند وکړ، نو پرې مهربانه شه».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر هغه چا لپاره (بد دعايي) خبرا کړېده چې د مسلمانو له چارو څخه يې د يوې مسؤوليت پر غاړه واخلي، هغه که کوچنی وي یا لوی، او برابره خبره ده که دا عامه ولايت وي یا خاصه، او پر هغوی يې سختي راوسته او نرمي يې ورسره ونکړه، نو الله تعالی به ورته سزا د عمل له جنس څخه ورکړي او سختي به ورسره وکړي. او دا چې څوک پرې مهربانه شي، او چارې يې ورته اسانه کړي، نو الله به پرې مهربانه شي او چارې به يې ورته اسانه کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5330